06-Nov-2025

# د ښو خلقو نخښې



هفته وار د سُنّتونو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتونو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

پۀ 6 نومبر، کال 2025ء (مطابق: 14 جمادي الاولیٰ، کال 1447ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د بنو خلقو نخښې

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ___ یا اللّٰه! ما داسې مۀ جوړوې
- ___ د بني اسرائیلو دعبادت ګزار واقعه
- ___ ابن الوقت چاته وائي---؟
- ___ د اللّٰه پاک د خپل بنده دپاره تحفه

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه: بیاناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِيّٖن

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د قيامت پهٔ ورځ به ما ته د ټولو نه نزدې هغه څوک وي چا چې پهٔ دُنيا کښې پهٔ ما باندې زيات دُرُودِ پاک وئيلے وي-[(1)]

زبان و قلب کی عظمت درود پاک سے ہے | ہر ایک غم میں حفاظت درودِ پاک سے ہے
غمِ جہاں سے کبھی سابقہ نہیں پڑتا | مجھے تو ہر گھڑی راحت درودِ پاک سے ہے
بروزِ حشر وہ ہو گا نبی کی قُربت میں | جہاں میں جس کو بھی اُلفت درودِ پاک سے ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

پهٔ حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نيتونو دے-[(2)]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه وکړو: مَثَلاً ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښينم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بيان اورم ❀ څهٔ چې

---

1...ترمذی، ابواب الوتر، باب ماجاء فی فضل...الخ، صفحه:144، حديث:484۔

2... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1۔

واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب!          صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يا اللّٰه! ما داسې مهٔ جوړوې

پهٔ حديثِ پاک کښې دي، **رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمائيلي دي:** د مخکښينو اُمتونو واقعه ده، يو ځل يوه زنانه د خپل پئيو د ماشوم سره ناسته وه- پهٔ لاره باندې يو ډير مالداره ګس تيريدو، هغه پهٔ آس باندې سور وو او پهٔ ظاهره يـې ډير لوئي شان او شوکت وو- بيا هُغه زنانه (کومه چې د خپل ماشوم سره ناسته وه، مور وه، نو د هغې پهٔ زړهٔ کښې ارمان راغلو) اوئې وئيل: اے اللّٰه پاکه! زما ځوي هم د دهٔ پهٔ شان کړې (د دهٔ پهٔ شان شان او شوکت ورعطا کړې)-

رسولُ اللّٰه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د مور دُعا چې يـې واوريدله نو هُغه ماشوم کوم چې د پئيو خښلو پهٔ عمر کښې وو، (د خُدائے قُدرت وو چې) هُغه ماشوم ووئيل: اَللّٰهُمَّ لَا تَجْعَلْنِيْ مِثْلَهٗ اے اللّٰه پاکه! ما د دهٔ پهٔ شان مهٔ جوړوې-

لږ وخت تير شو، پهٔ هُغه ځائے يوه زنانه تيريدله، د هغې حالت ډير بد وو، خلقو هغه رابښکله، ماشومانو پهٔ کاڼو ويشتله- پهٔ دې ليدو د مور پهٔ زړهٔ کښې بيا ارمان راغلو، هغې بيا دُعا اوکړه: اے اللّٰه پاکه! زما ځوي د دې پهٔ شان مهٔ جوړوې- پې ښبونکي ماشوم بيا ووئيل: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِثْلَهٗ اے اللّٰه پاکه! ما د دې زنانه پهٔ شان جوړ کړې-

دا يـې چې واوريدل نو مور يـې ځوي ته ووئيل: ځويه! څهٔ قيصه ده؟ ما دُعا اوکړه چې اللّٰه پاک تا د هُغه شان او شوکت والا پهٔ شان جوړ کړي، نو تا ووئيل: اے اللّٰه پاکه! ما داسې مهٔ جوړوې- ما دُعا اوکړه: مولا! زما ځوي د دې ذلالت سره د مخ کيدونکي زنانه پهٔ شان مهٔ جوړوې، نو تا ووئيل: اے اللّٰه پاکه! ما هُم داسې جوړ کړې- پهٔ دې کښې څهٔ راز دے؟ هُغه ماشوم ووئيل: مورې! هُغه ګس پهٔ ظاهره د شان او شوکت والا وو خو هغه

دوزخي وو او دا زنانه په ظاهره د ذِلت سره مخ وه، دا نیکه وه، خلقو په دې باندې ظلمونه کول او هغې وئیل: حَسْبِیَ اللّٰهُ حَسْبِیَ اللّٰهُ ما لره الله کافي دے- ما لره الله کافي دے- (1)

بنا دے مجھے نیک نیکوں کا صدقہ | گناہوں سے ہر دم بچا یا الٰہی!

## د اولیاؤ شان

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا حدیثِ پاک د کوم چې ما تاسو ته د بیانولو سعادت حاصل کړو دا حدیث شریف په مشهور کتاب بُخاري شریف کښې هم شته او د اِمام احمد بن حنبل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په کتاب مُسنَدِ اِمام احمد کښې هم شته- په بُخاري شریف کښې لږ شان مختصر دے، په مُسنَدِ اِمامِ اَحمد کښې په تفصیل سره دے- ما د مُسنَدِ اِمامِ اَحمد والا روایت تاسو ته بیان کړے دے-

د دې حدیثِ پاک په رڼا کښې ورومبے خو د هغه ماشوم شان ته وګورئ! ظاهره دا ده چې دا څوک پیدائشي وَلِيُّ الله وو، ځکه خو یې ❀ د پئیو څښلو په عمر کښې خبرې هم کولې ❀ د زمکې د راز نه هم خبر وو ❀ او مور د کومې عمر چې زیات وو، عقل منده هم وه، د هغې نظر چې څۀ نۀ لیدل، د دې وړوکي ولي الله سترګو هغه هم لیدل، د عِلم شان ته یې وګورئ! هغوئي ته معلومه وه چې په ظاهره د شان او شوکت والا ګس انجام به دوزخ وي او په ظاهره د ذِلت سره مخ زنانه د **الله** پاک په بارګاه کښې لوئي مقام لري-

د دې نه معلومه شوه چې پیدائشي ولیان هم وي- یعنې د داسې شان والا هم وي کوم چې **الله** پاک هُم ولي دُنیا ته رالیږي ❀ اَلْحَمْدُلِله! زمونږه پیر، د پیرانو پیر، پیر دستګیر حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم پیدائشي ولي وو ❀ اعلیٰ حضرت، اِمامِ اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم پیدائشي ولي وو ❀ او د هغوئي شهزاده حُضُور مصطفٰے رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم پیدائشي ولي وو ❀ دویمه خبره د دې نه دا معلومه شوه چې **الله** پاک ولیانو ته لوئي

1...مسند احمد، جلد:4، صفحه:243، حدیث:8292۔

نظر عطا کوي، هغوئي ته هم د غیبو عِلم ورکولے کیږي، دوئي هُغه څۀ لیدے شي کوم چې عام خلق نشي لیدے، دوئي د هُغه څیز نه هم خبر وي، کوم چې عامو خلقو ته معلوم نۀ وي-

اَولیا ہیں سب سَلاطیں ہم رِعَایا و غُلام
اَوْلیا سب ہیں رعیت اور سُلطاں غوثِ پاک

## هر ځلیدونکے څیز سرۀ زر نۀ وي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د دې حدیثِ پاک نه یوه اهمه خبره کومه چې د زدکړې د پاره میلاؤیږي، هغه دا چې زمونږ په نزد د نیکۍ او د بدۍ معیار جُدا دے او د **اللّٰه** پاک پۀ نزد جُدادے- مونږ خلق ظاهر ته ګورو، بنده ډیر مالداره دے، د هغۀ پۀ لیدو زمونږ پۀ زړۀ کښې لالچ راځي ❀ د چا کاروبار چې ښۀ وي، ورځ پۀ ورځ ښۀ کیږي، مونږ وایو: پۀ هغه باندې د خُدائے لوئي فضل دے- دا هم کیدے شي چې پۀ هغۀ باندې د **اللّٰه** پاک فضل وي خو د دې اُلټا هم کیدے شي ❀ څوک غریب چې مالداره شي، مونږ وایو: پۀ دۀ خُدائے ډیر مهربانه دے- که څوک مالداره غریب شي نو مونږ وایو: د دۀ نه ضرور څۀ ګناه شوې ده، **اللّٰه** پاک د دۀ نه سخت ناراضه دے-

یعنې مونږ ظاهري شان او شوکت او عزت او شهرت ته ګورو- خو یاد ساتئ لکه چې څنګه هر ځلیدونکے څیز سرۀ زر نۀ وي، هُم داسې هر دُنیائي شان او شوکت، عزت او شهرت د **اللّٰه** پاک پۀ نزد د قبولیت دلیل نۀ وي-

د **اللّٰه** پاک پۀ نزد د قبولیت دلیل څۀ دے؟ مونږ چا ته وئیلے شو چې پۀ دۀ باندې خُدائے مهربانه دے؟ پۀ دۀ باندې د **اللّٰه** پاک ډیر فضل دے؟ راځئ چې پۀ دې باره کښې یو آیت مبارک او یو څو حدیثونه واورو:

## (1): اِیمان میلاؤیدل د فضل دلیل دے

اللّٰه پاک پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

فَمَنْ یُّرِدِ اللّٰهُ اَنْ یَّهْدِیَهٗ یَشْرَحْ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ (پاره:8، سورۀ انعام:125)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او چا ته چې اللّٰه هدایت ورکول وغواړي نو د هغۀ سینه د اِسلام د پاره فراخه کړي۔

سُبْحٰنَ اللّٰه! معلومه شوه چې ښۀ هغه څوک دے څوک چې پۀ اِسلام پوهه شو، د چا سینه چې د ایمان د پاره پرانستے شو۔ د چا چې د ایمان دولت نصیب نۀ دے، هغه که هر څومره مالداره وي، کروړ پتي نۀ بلکې ارب پتي کهرب پتي وي، د دُنیا د ټولو نه طاقتور بنده وي، د چا پۀ اشارو چې پۀ لکونو خلق ګرځي، که ایمان یې نصیب نۀ دے نو دا ټول مال، دولت، طاقت، قوت پۀ هغۀ باندې فضل نۀ بلکې غضب دے، مهرباني نۀ قهر دے۔

او د چا چې د اِیمان دولت نصیب شي، که هغه پۀ شلیدلو زړو جامو کښې، د کپړو پۀ معمولي شان جونګړه کښې ولې نۀ وي، هغه ښۀ او کامیاب بنده دے۔

## د مریض پۀ خوا کښې ښه خبره کوئ!

پۀ مسلم شریف کښې حدیث دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: اِذَا حَضَرْتُمُ الْمَرِیْضَ کله چې تاسو د (مسلمان) مریض خوا له لاړ شئ فَقُوْلُوْا خَیْرًا نو هلته پۀ ژبه صرف ښه خبره راولئ!

د دې څۀ وجه ده؟ فرمائي: فَاِنَّ الْمَلَائِکَةَ یُؤَمِّنُوْنَ عَلٰی مَا تَقُوْلُوْنَ بے شکه (د مریض سره پۀ کیناستو) چې تاسو د خُلې نه څۀ خبره اوباسئ، فرښتے پۀ هغې باندې آمین وائي۔ (1)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا شان د مسلمان شان دے۔ پۀ دې حدیثِ پاک کښې هیڅ قید نشته چې ❁ که د وخت د غوث پۀ خوا کښې کښیني او که د ولیانو د ولي پۀ خوا

1...مسلم، کتاب الجنائز، باب مایقال عند المریض والمیت، صفحه:330، حدیث:919۔

کښې کښيني- بلکې که څوک ❁ عام شان مسلمان کوم چې مالداره نۀ وي ❁ که هغه ګنهګار هم وي ❁ که د کپړې پۀ جونګړه کښې اوسيږي ❁ که پۀ ټول ښار کښې د ټولو نه زيات غريب وي، که د چا پۀ زړۀ کښې **د ايمان نُور** موجود دے نو د هغۀ دا شان دے، که بيمار شي نو فرښتے د هغۀ پۀ خوا کښې موجودې وي، که څوک د تپوس د پاره راشي نو حُکم دے چې خُله پۀ واک کښې وساتي، هيڅ غلطه جمله دلته د خُلې نه اونۀ باسي، ځکه چې د هغۀ د خُلې نه به خبره ووځي، فرښتے به پرې آمين وائي او کړې خبره به داسې قبوله شي-

اوس وګورئ چې بنده که د دُنيا څومره هم مالداره، ارب پتي، کهرب پتي ولې نۀ وي، کله چې د هغۀ پۀ زړۀ کښې د اِيمان نُور موجود نۀ وي نو دا شان د هغۀ نصيب نۀ دے کوم چې د يو عام شان ډير غريب انسان هُم نصيب دے-

معلومه شوه :چې ښۀ د ايمان والا دے د چا سره چې فرښتے وي- غير مسلمه که هر څنګه مالداره، تعليمِ يافته، د شان او شوکت والا ولې نۀ وي، هغه هيڅکله هم نيک انسان نۀ دے بلکې خراب دے- **اللّٰه** پاک د غير مسلمو پۀ باره کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| اُولٰٓىٕكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِیَّةِ (پاره:30، سورهٔ بيّنه:6) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: هُم هغوئي پۀ ټول مخلوق کښې د ټولو نه بد تر دي- |

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د اِيمان دولت زمونږ نصيب دے، پۀ دې باندې د **اللّٰه** پاک شُکر هم ادا کول پکار دي، د دې سره سره دُعا هم کول پکار دي چې **اللّٰه** پاک زمونږ پۀ اِيمان باندې اِستقامت نصيب کړي-

| | |
|---|---|
| دينِ اسلام پر مجھے یاربّ! | اِستِقامت تُو مَرحَمَت فرما |
| موت اِيماں پہ دے مدینے میں | اور مَحمُود عاقِبت فرما (1) |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

1...وسائلِ بخشش، صفحه:75 ملتقطاً-

## (2): د دِين فقاهت(پوهه) ميلاؤيدل

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د نيک اِنسان يوه ښه نخښه واورئ! پهٔ حديثِ پاک کښې دي: مَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يُّفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ يعنې الله پاک چې د چا سره د نيکۍ اِراده اوکړي، هغهٔ ته د دِين فقاهت (يعنې پوهه) عطا کړي- (1)

سُبْحٰنَ الله! دا ده د نيک انسان نخښه---!! الله پاک چې د چا سره د نيکۍ اِراده اوکړي، پهٔ چا باندې چې خپل خاص فضل او کرم اوکړي، د هغهٔ نخښه داسې ظاهريږي چې بنده د دِين فقِيه (يعنې د دِين پوهه لرونکے) جوړ کړے شي-

## فَقِيه څهٔ ته وئيلے شي---؟

دا خبره ياده ساتۍ چې پهٔ عِلم او فقاهت کښې ډير فرق دے- د فقاهت مطلب دے: بنده به پهٔ فلانکي وخت کښې څهٔ کوي؟ څنګه به يې کوي؟ د دې پوهه نصيب شي-

د مثال پهٔ توګه ❁ يو کَس اودس کوي، هغه ته معلومه ده چې مسواک کول سُنَّت دي او هغه مسواک هم کوي، هلته جُمعه ولاړه ده- اوس دلته دوه صورتونه دي، يو خو دا چې انسان دې دلته مسواک کوي او هلته دې ترينه جُمعه وَتي- دا د فقاهت نهٔ لرلو نخښه ده- دويم صورت دا دے چې انسان فِي الحال مسواک سُنَّت پريږدي او پهٔ تادۍ باندې پهٔ جُمعه کښې شامل شي، دا فقاهت دے ❁ هم داسې يو بنده غريب دے، پهٔ هغه باندې زکوٰة فرض نهٔ دے، نـمونځ پهٔ هغهٔ باندې فرض دے خو هغه د نـمونځ احکام نهٔ زده کوي، د زکوٰة احکام زده کوي، دا هم د فقاهت نهٔ لرلو نخښه ده- غرض دا چې بنده ته دا پته ولګي چې څهٔ وخت څهٔ کول دي؟ دې ته فقاهت وئيلے شي- د دې يو مثال مونږ ته پهٔ حديثِ پاک کښې هم ميلاؤيږي:

1 ...بخاری، کتاب العلم، باب من يرد الله...الخ، صفحه:90 حديث:71-

# د بني اسرائيلو د يو عبادت ګزار واقعه

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: پۀ مخکښينو اُمتونو کښې **جُرَيج** نومې يو ګس وو،ډيرعبادت ګزار وو-

وضاحت اوکړم: دې حضرت **جُرَيج** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د **الله** پاک پۀ بارګاه کښې ډير لوئي مقام لرلو- پۀ بعضې روايتونو کښې دا هم دي چې دۀ به مخکښې تجارت کولو، هغه به کله پۀ تجارت کښې ګټه اوکړه او کله نقصان- يو ځل هغۀ سوچ اوکړو چې پريږده! هٰغه تجارت کووم پۀ کوم کښې چې هډو نقصان نۀ وي- نو هغۀ خپله يوه عبادت خانه جوړه کړه او پۀ عبادت کښې مصروف شو- (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره زبردسته خبره ده- **الله** پاک دې زمونږ داسې سوچ نصيب کړي- خير! ما حديث شريف بيانولو: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: يو ځل حضرت جُرَيج رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ خپله عبادت خانه کښې عبادت کولو، د هغوئي مور هلته راغله- اوازيې ورته اوکړو: اے جُرَيجه---!! دۀ نمونځ کولو- پۀ زړه کښې يې سوچ اوکړو چې يا الله! يو طرف ته نمونځ دے او بل طرف ته مور ده، څۀ اوکړم؟ لږ سوچ يې اوکړو او فيصله يې اوکړه چې نمونځ ډير اهم دے- نو هغۀ نمونځ جاري وساتو- مور جاني يې بيا اواز اوکړو: اے جُرَيجه! حضرت جُرَيج رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه جواب ورنکړو- مور پۀ دريم ځل اواز ورکړو- هغوئي بيا هم پۀ نمونځ کښې مشغول وو- اخر يې مور پۀ غصه کښې ووئيل: خُدائے دې تا له د هٰغه وخته پورې مرګ نۀ راولي، د څو پورې چې تۀ د بد کارې زنانه مخ اونۀ وينې---!!

د مور دُعا خو بيا د مور دُعا ده- نو يو وخت راغلو، يوې بد کارې زنانه د يو شپونکي سره بد کاري اوکړه، ماشوم يې پيدا شو نو د هغې اِلزام يې پۀ حضرت جُرَيج رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

1...مسند احمد، جلد:4، صفحه:618، حديث:9853۔

باندې ولګولو- خلقو چې د بد کارې زنانه خبره واوریدله نو غصه شول- په منډه د هغهٔ خوا له راغلل، د حضرت جُرَیج رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه عبادت خانه یــې ورانه کړه او هغوئې یــې وتړو او د بادشاه خوا له یــې بوتلو- هغوئې ته چې کله د معاملې پته ولګیده نو هٔغه وړوکې ماشوم ته یــې وفرمائیل: ځویه! هُم تهٔ ووایه چې ستا پلار څوک دے؟ هٔغه ماشوم هلک خبرې اوکړې او اوئې وئیل: زهٔ د فلانـکي شپونـکي ځوي یم- دا یــې چې واوریدل نو ټولو ومنله چې حضرت جُرَیج رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه بالکل بے ګناه دے-(1) البته! هٔغې مور چې کومې ښیرې کړې وې، هغه پوره شوې-

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** وګورئ چې فقاهت دا دے چې بنده نفل نـمونځ کوي، مور جانه ورته اواز اوکړي نو انسان دې نـمونځ پریږدي او د مور خبره دې واوري خو حضرت جُرَیج رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه دا اونهٔ کړل، هغوئې ډیر لوئې عبادت ګزار وو، ولي الله وو، البته! صرف پهٔ یوه معامله کښې هغوئې د فقاهت نه کار وانخستو نو پهٔ دې هغوئې نقصان اوکړو-

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** امید دے چې اوس به د فقاهت پهٔ مطلب باندې پوهه شوي یــئ- **حدیثِ پاک** مونږ واوریدو: **الله** پاک چې د چا سره د نیکئ اِراده وفرمائي، هغه ته فقاهت عطا کړي- اوس دې مونږ غور اوکړو چې آیا دا فقاهت زمونږ نصیب دے؟ آیا مونږ دې خبرې ته توجه کوو؟ ما ته څهٔ وخت څهٔ کول دي؟ پهٔ ما باندې کوم وخت کوم کار لازم دے؟ آیا پهٔ دې خبره باندې زهٔ پوهیږم؟ افسوس چې عام طور خلق پوهه نهٔ وي ❀ پهٔ بنده باندې د نـمونځ احکام زده کول فرض شوي دي خو هغه د دُنیا پهٔ تعلیم زده کولو کښې مصروف وي- یقیناً چې د دُنیا تعلیم پهٔ جائز انداز کښې زده کول بالکل جائز دي خو څهٔ چې زده کول فرض دي، هغه به وړومبے زده کول وي ❀ دغه شان دلته خلق پهٔ عجیبه قِسمه جګړو کښې انښتي وي، مثلاً ❀ د حضرت موسیٰ عَلَیۡهِ السَّلَام د [مور د طرف نه] د نیا

---

1…مسند احمد، جلد:4، صفحه:614، حدیث:9852 ملخصاً-

نوم څۀ وو؟ ❀ يا جوج او ماجوج د چا اولاد دے؟ ❀ فلانکي صحابي فلانکے کار ولې اوکړو؟ ❀ فلانکي داسې ولې اوکړو؟ ❀ پۀ فلانکي مُلک کښې څۀ کيږي؟ ❀ فلانکے ډله څۀ کوي؟ ❀ پۀ سياسي تبصرو، پۀ حکومتونو باندې پۀ تنقيد او پته نۀ لګي چې پۀ کومو کومو مسئلو کښې مونږ اننښتي يو-

يا ورورهـ--!! پۀ مونږ باندې څۀ لازم دي، مونږ دې پۀ هغې سوچ اوکړو کنه، د نورو مسئلو سره زمونږ څۀ تعلق دے--؟ بے شکه جنرل معلومات حاصلول هم بده خبره نۀ ده خو وړومبے چې فرائض خو پوره کړو، واجبات خو پوره کړو- زما پۀ ذِمه باندې څۀ دي؟ وړومبے خو پۀ دې باندې غور اوکړو- باقي مسئلې به هم حل کيږي-

## هغه يو قوم وو، کوم چې تير شوے دے

يو ځل د حضرت اِمام احمد بن حنبل رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه پۀ خِدمت کښې يو کَس حاضر شو، عرض يې اوکړو: عالي جاه--!! د مسلمانانو د څلورم خليفه مولٰى علي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ او د حضرت امير معاويه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ترمينځه چې څۀ معاملې شوې، د هغې پۀ باره کښې تاسو څۀ فرمايئ؟ اِمام احمد بن حنبل رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه خاموشه شو، لږ وخت پس يې دا آيت مبارک تلاوت کړو: (1)

تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَّا كَسَبْتُمْ ۚ

(پارہ:1، سورۂ بقرة:141)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: دغه يو اُمت دے چې تير شوے دے- د هغوئي اعمال د هغوئي د پاره دي او ستاسو اعمال ستاسو د پاره دي-

هغوئي دا وئيل غوښتل چې ورورهـ--!! هغوئي صحابهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم وو، هغوئي ټول جنتيان دي، د هغوئي ترمينځه چې څۀ وشو، د هغې فيصله به د قيامت پۀ ورځ **الله** پاک فرمائي، زمونږ د مشرانو پۀ خپل مينځ کښې د معاملاتو سره څۀ تعلق دے--!! د کومې

1...تاريخ بغداد، جلد:6، صفحه:42-

خبرې چې به زمونږ نه پوښتنه کيږي، د هغې خبره اوکړه! هغه زده کړه! پۀ هغې ځان پوهه کړه! پۀ غير ضروري معاملاتو کښې ګوتې ولې وهې؟

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! پۀ دې خبره باندې مونږ ته ځان پوهه کول دي- چې پۀ دِين کښې فقاهت حاصل کړئ! يعنې اصلي د زده کولو، ځان پوهه کولو، کتلو، د غور کولو، د تبصرو او تجزيو کولو دا خبره دا ده چې ❁ پۀ ما باندې څۀ لازم دي؟ ❁ ما څۀ اوکړل؟ ❁ زۀ څۀ کووم؟ ❁ ما خپلې ذمه وارئ پوره کړې دي که نۀ؟ د دې پۀ زده کولو، ځان پوهه کولو او پۀ غور کولو کښې مصروفه کيدل پکار دي- ❁ **اللّٰه** پاک يو دے، د هغۀ شريک نشته ❁ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **اللّٰه** پاک نبي دے، اخري رسول دے ❁ صحابۀ کرام عَلَيهِمُ الرِّضوَان ټول جنتيان دي- وغيره چې څومره هم بنيادي عقيدې دي، چې مونږ هغه زده کړو او پۀ هغې باندې پوخ عمل اوکړو، بس دا کافي دي ❁ دغه شان د ملکونو پۀ باره کښې تبصرې ❁ پۀ مختلفو جماعتونو باندې تنقيدونه- د دې ټولو سره زمونږ څۀ تعلق دے---؟ آؤ! د دې سره به تعلق هله جوړيږي، کله چې مونږ ته دا ذمه وارئ وسپارلے شي- ځکه بهترې پۀ دې کښې ده چې مونږ فضول او بے فائدې خبرو ته توجه نۀ کوو او فقاهت حاصل کړو، **پۀ دې وخت کښې پۀ ما باندې څۀ لازم دي**، د هغې پۀ سوچ، د ځان پوهه کولو او د زده کولو پۀ کوشش کښې اخته شو-

## اِبنُ الوَقت څۀ ته وئيلے شي؟

صوفيائے کرام يوه اِصطلاح وائي: **اِبنُ الوَقت**- وئيلے کيږي: **اَلصُّوفِيُّ اِبْنُ الْوَقْتِ** يعنې صُوفي اِبنُ الوَقت وي- د اِبنُ الوَقت هم دغه معنیٰ ده چې صوفي هر وخت هم هٰغه کار کوي، کوم چې هٰغه وخت پۀ هغه باندې لازم وي-(1)

بس مونږ له هم پکار دي چې مونږ هم اِبنُ الوَقت جوړ شو- يعنې هر وخت هم پۀ هٰغه

1 ...رساله قشيريه، باب في تفسير الفاظ تدور...الخ، صفحه:90-

کار کښې مصروف شو کوم چې په هغه ساعت کښې اهم او لازم وي- **الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

## (3): په ازميښت کښې مبتلا کيدل

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د نيک انسان نخښه څۀ ده؟ په دې باره کښې حديثِ پاک واورئ! د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: **مَنْ يُرِدِ اللهُ بِهٖ خَيْرًا يُصِبْ مِنْهُ** يعنې **الله** پاک چې د کوم انسان سره د نيکۍ اراده وفرمائي، هغه په ازميښت کښې مبتلا کړي-[1]

**اَللهُ اَكْبَر!** څومره نا اشنا خبره ده- دلته خلق د دې اُلټا چليږي- چا ته چې پيسه ميلاؤيږي، د مال او دولت کثرت وي ورسره، چرته چې ځې نو کاميابي يې نصيب کيږي، د هغۀ په باره کښې خلق وائي: په دۀ باندې د **الله** پاک لوئې فضل دے- د دۀ نه **الله** پاک راضي دے- کيدے شي چې د هغۀ نه هم **الله** پاک راضي وي، البته! د **الله** پاک د فضل نخښه ازميښت دے- مال او دولت نصيب کيدل هر ځل د فضل نخښه نۀ وي بلکې د مال او دولت زياتوالے بعضې وخت د **الله** پاک د ناراضګۍ نخښه وي-

## د نعمتونو د زياتوالي نه ويريږئ!

**الله** پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

فَلَمَّا نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا بِهٖ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ اَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ ؕ (پاره:7، سورۀ انعام:44)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بيا چې کله هغوي هغه نصيحتونه هير کړل کوم چې هغوي ته شوې وو نو مونږ په هغوئې د هر څيز دروازې برسيره کړې-

يعنې کله چې خلقو د **الله** پاک احکام هير کړل نو **الله** پاک په هغوې باندې د هر څيز

1...بخاری، کتاب المرضیٰ، باب ماجاء فی کفارۃ المریض، صفحہ:1432، حدیث:5645۔

دروازې برسيره کړي، د دې ځائے نه ورته هم رزق راځي، د هغه ځائےنه ورته هم کاميابي نصيب کيږي، وائي:چې خاورې له هم چې لاس وړې نو سرهٔ زر ترې جوړيږي - د دې بنده دغه حالت شي- بيا څهٔ کيږي:

حَتّٰۤى اِذَا فَرِحُوْا بِمَاۤ اُوْتُوْۤا اَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً فَاِذَا هُمْ مُّبْلِسُوْنَ ﴿۴۴﴾

(پاره:7، سورهٔ انعام:44)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: تر دې چې کله هغوئي پهٔ هغې خوشحاله شو څهٔ چې هغوئي ته ورکړے شوي وو نو مونږه هغوئي ناڅاپه ونيول-

يعنې بنده د نعمتونو د کثرت پهٔ وجه غافله شو، پهٔ هغه نعمتونو کښې به خوشحاله اوسيدو، غرور کوي، بيا ناڅاپه د دغه غفلت پهٔ حالت کښې هغه راګير کړے شي-
اِمامِ حَسَن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: که تا ته د ګناهونو باوجود نعمتونه ميلاؤيږي نو ويريږه! چې دا د الله پاک پټ تدبير کيدے شي-(1)

معلومه شوه چې د ډيرو نعمتونو ميلاؤيدل، مصيبت نهٔ راتلل، هر ځل د فضل نخښه نهٔ ده، بعضې وخت دا د ناراضګئ نخښه هم وي خو ازميښت هر وخت د فضل نخښه وي - وګورئ! ❀ کله چې مونږ ناروغه شو نو څوک يادوو؟ الله پاک ❀ کله چې مو کاروبار بند شي نو څوک يادوو؟ الله پاک ❀ پهٔ تنګدستې کښې څوک يادوو؟ الله پاک ❀ خُدائے دې نهٔ کړي چې زلزله راشي، سيلاب راشي، تيز طوفان راشي نو ډير غافلان خلق هم کلمه طيبه وئيل شروع کړي- معلومه شوه چې الله پاک د کوم بنده سره د نيکئ اِراده اوکړي، هغه پهٔ ازميښت کښې راګير کړي، کله چې پهٔ بنده باندې ازميښت راشي نو غفلت ترينه لرې شي او بنده د الله پاک پهٔ ياد کښې مصروف شي-

## مُلحِد اِيمان راوړو

يو مُلحِد وو- کوم بنده چې د الله پاک د وجود نه هم انکاري وي، هغهٔ ته مُلحِد

1...تفسير قرطبى، پاره:7، سورهٔ انعام، زيرِ آيت:44، جز:6، جلد:3، صفحه:225۔

وئیلے شي- دا هم د **اللّٰه** پاک د وجود نه انکاري وو، وئیل به یې چې دا دُنیا خو بس پخپله جوړه شوې، اوس هم پخپله روانه ده- یو ځل داسې وشو چې د هغهٔ لور بیماره شوه- ډاکټرانو له یې بوتلله، ډاکټرانو چیک اَپ کولو، دوایانې به یې ورکولې خو شِفا به یې نصیب نه کیده-

اخر ډاکټرانو هغه ته ووئیل چې د دهٔ لور اوس بچ کیدے نشي- د هغه مُلحِد د لور سره ډیره مینه وه، ډیر خفه شو، بیا ځوک وو چې د هغه پهٔ حُضُور کښې یې دُعا کړې وے- خُدائے خو یې هډو منلو نه- خو اوس یې پهٔ سر باندې راغلې وه- اخر چې کله د هر طرف نه مایوسه شو نو دا تنهایئ ته لاړو، د دُعا د پاره یې لاسونه پورته کړل او پهٔ ژړا یې ووئیل: اے اللّٰه پاکه! که چرې واقعي ستا وجود وي نو تهٔ زما مدد اوکړې- اے اللّٰه پاکه! زهٔ بالکل بے وسه یم، زما مدد اوکړې، زما د لور شِفا نصیب کړې-

بس د هغهٔ ژړل وو چې د **اللّٰه** پاک پهٔ حُضُور کښې د هغهٔ دُعا قبوله شوه او د هغهٔ د لور شِفا نصیب شوه- بیا دهٔ ومنله چې د خُدائے وجود واقعي چې شته- خو بیا هغه پریشانه وو چې د خُدائے وجود خو شته خو زهٔ د کوم خُدائے عبادت اوکړم- پهٔ دُنیا کښې ډیر مذهبونه دي، ټولو ځان له بیل بیل خدایان جوړ کړي دي- کله چې هغه پهٔ دې سوچ کښې وو نو چا هغه له د قرآنِ کریم تحفه ورکړه- هغهٔ د قرآنِ کریم تلاوت شروع کړو- ځنګه چې یې قرآنِ کریم لوستلو، د زړهٔ نه یې د تیارې پردې لرې کیدلې، اخر د هغهٔ زړهٔ پهٔ اِیمان باندې منور شو او یې کلمه ووئیله او مسلمان شو-

سُبْحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** معلومه شوه چې **اللّٰه** پاک د کوم بنده سره د نیکئ اِراده وفرمائي نو هغه پهٔ ازمیښت کښې راګیر کړي، د هغه ازمیښت پهٔ برکت انسان د نیکئ او د هدایت طرف ته ځي-

## پهٔ کاروبار کښې نقصان ولې وشو---؟

يو ډير ښکلے روايت دے- پهٔ توجه سره يې واورئ- حضرت عبدُ الله بن مَسعُود رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: بنده بعضې وخت د تجارت اِراده کوي، هُغه وخت **الله** پاک هغهٔ ته د رحمت نظر فرمائي او فرښتو ته حُکم کوي: دا بنده د تجارت نه لرې کړئ، که د دهٔ د پاره تجارت اسان کړے شو نو دا به د دهٔ دوزخ ته د تللو سبب جوړ شي- بس فرښتے د هغهٔ او د تجارت ترمينځه خنډ [يعنې رکاوټ] جوړ شي-(1)

اَللّٰہُ اَکۡبَر! څنګه خبره ده---!! بنده د کور نه ووتو، دکان ته لاړو، **الله** پاک پهٔ هغهٔ باندې فضل فرمائي، **الله** پاک اِراده کړې ده چې پهٔ هغهٔ باندې دې خصوصي کرم او اِحسان اوکړے شي، ځکه د فرښتو ډيوټي ولګولے شي، د کومې خبرې---؟ دا چې نن د ټول بازار ګاهک د هغهٔ دکان ته راجمع کړے شي---؟ نا---!! د فرښتو ډيوټي ولګي چې نن د دهٔ دکان ته يوګاهک هم مهٔ راپريږدئ- ولې؟ ځکه که د دهٔ سره مال راغلو نو دا به د غفلت ښکار شي، پهٔ ګناهونو کښې به اخته شي او د دوزخ حقدار به جوړ شي-

الله! الله! دلته که داسې ازميښت راشي نو خلق ګيلې کوي او وائي: څهٔ ګناه وشوه چې پهٔ ما باندې ازميښت راغلے دے- داسې وئيل نهٔ دي پکار بلکې دا سوچ کول پکار دي چې زما د ګناهونو شامت راغلے دے نو شُکر ادا کول پکار دي چې **الله** پاک د چا سره د نيکۍ اراده فرمائي نو هغه پهٔ ازميښت کښې راګيروي-

## د ازميښت دُعا غوښتل څنګه دي؟

دلته يوه خبره ياده ساتئ چې مونږ ته د ازميښت د دُعا کولو اجازت نشته- بعضې خلق چې کله داسې حديثونه واوري نو د ځان د پاره د ازميښت دُعاګانې کوي چې يا الله پاکه! پهٔ ما باندې څه ازميښت راولې د پاره د دې چې زما ګناهونه ختم شي- دا غلطه خبره ده-

1...شرح اصول اعتقاد اہل السنة والجماعة، جز:4، جلد:2، صفحه:411، رقم:1219۔

د **اللّٰه** پاک نه د عافيت دعا کول پکار دي- بس **اللّٰه** پاک دې زمونږه عافيت نصيب کړي ✿ او که ازميښت اوس راشي ✿ معاشي تنګي راشي ✿ کاروبار ودرېږي ✿ بيمارياني ✿ پريشاني مو راګير کړي نو مونږ له صبر کول پکار دي او شُکر هم ادا کول پکار دي- **اللّٰه** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (4): د اللّٰه د خپل بنده دپاره تحفه

**خورړو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د نيک انسان يوه بله ګټنه واورئ! رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اِذَا اَرَادَ اللّٰهُ بِعَبْدٍ خَيْرًا اَهْدٰى لَهٗ هَدِيَّةً يعني **اللّٰه** پاک چې کله د بنده سره د نيکئ اراده وفرمائي نو د هغهٔ طرف ته تحفه رالېږي- پوښتنه اوکړے شوه: يا رسولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! مَا تِلْكَ الْهَدِيَّةُ يعني دا تحفه څهٔ وي؟ اوئې فرمائيل: بِضَيْفٍ يَنْزِلُ بِهٖ بِرِزْقِهٖ وَيَرْحَلُ، وَقَدْ غُفِرَ لِاَهْلِ الْمَنْزِلِ يعني **اللّٰه** پاک هغهٔ ته ميلمه رالېږي کوم چې خپل رزق د ځان سره راوړي خو کله چې ځي نو د کور والؤ بخښنه کوي-[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! معلومه شوه چې د چا کره ميلمانهٔ راځي، دا هم د **اللّٰه** پاک د طرف نه د خاص فضل او رحمت ميلاؤيدو ګټنه ده- دلته بعضې خلق ميلمانهٔ بوج ګڼي- دا بده خبره ده- ميلمه خو د ځان سره خپل رزق پخپله راوړي، زمونږ د پاره خو دا د مفتو غنيمت دے، چې مونږ د هغهٔ ميلمستيا اوکړو، د هغهٔ سره ښهٔ سلوک اوکړو، ښهٔ قدر او مدار يې اوکړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د بخښنې حقداران به جوړ شو-

1...معرفة الصحابه لابي نعيم، جلد:1، صفحه:513، رقم:1731-

## په دې کښې هيڅ خير نشته---

رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: لَا خَيْرَ فِيْمَنْ لَّا يُضَيِّفُ يعنې په هغه بنده کښې هيڅ خير نشته، کوم چې د ميلمه ميلمستيا نۀ کوي- (1) وګورئ چې ميلمستيا ته د کوم حده پورې اهميت ورکړے کيږي، دا وئيلے کيږي چې د انسان د نيکئ او د بدئ، د هغۀ د شر او د هغۀ د خير معيار ميلمستيا ده ❀ څوک چې ميلمستيا کوي ❀ د ميلمه عزت کوي ❀ ميلمه ته خوشحالي او ارام رسوي ❀ ميلمه چې يې کور ته راشي نو خوشحاليږي ❀ هغه انسان ډير ښۀ دے، د هغۀ په کردار کښې، د هغۀ په اخلاقو کښې، د هغۀ په سيرت او ذات کښې خير دے او ❀ کوم بنده چې د ميلمه عزت نۀ کوي ❀ ميلمه چې کور ته راشي نو د هغۀ مخ مړاوے شي ❀ په زړۀ زړۀ کښې پريشانه کيږي ❀ د ميلمه ښه ميلمستيا نۀ کوي، د داسې انسان په اخلاقو او کردار او د هغۀ په ذات کښې هيڅ خير نشته-

## د ميلمستيا په فضائلو باندې حديثونه

❀ د حضرت اَنس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بيان دے چې د مدينے منورې تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: په کوم کور کښې چې ميلمه وي هغه کور ته خير او برکت داسې رامنډې وهي لکه څنګه چې د اوښ د قوب [کوپان] نه لښته (په تيزئ سره ښکته پريوځي) بلکې د دې نه هم تيز- (2)

**وضاحت**: تاسو به اوښ ليدلے وي، د اوښ قوب [کوپان] دغر په شان وي، په هغې باندې د پاسه څۀ څيز ايساريږي نۀ، په هغې باندې که چرې لښته کيښودے شي نو په تيزئ سره ترينه غورځيږي، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې

1...مکارم الاخلاق للخرائطی، باب ما جاء فی اکرام الضيف...الخ، جلد:2، صفحه:155، حديث:329۔

2...ابن ماجه، کتاب الاطعمه، باب الضيافة، صفحه:545، حديث:3356۔

مثال پهٔ ذریعه مونږه پوهه کړو چې که د اوبښ پهٔ قوب [کوپان] باندې لښته کیښودے شي نو چې څومره پهٔ تیزئ سره هٔغه لښته ښکته غورځیږي، څوک چې د میلمه میلمستیا کوي، خیر او برکت د دې نه هم ډیر پهٔ تیزئ سره د هٔغه خوش قِسمته د کور طرف ته ځي۔

✿ یو بل ایمان تازه کوونکے روایت واورئ! حضرت اَنس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ خپل وروور بَراء بن مالک ته وفرمائیل چې اے بَرَاء! انسان چې کله د خپل (دِیني) وروور صرف د اللّٰه پاک د رضا د پاره میلمستیا کوي او د هغې څهٔ بدله او شکریه نهٔ غواړي نو اللّٰه پاک د هغهٔ کور ته 10 فرښتے رالیږي کومې چې ټول کال د هغهٔ پهٔ کور کښې اوسیږي او د اللّٰه پاک تسبیح هم کوي، د هغهٔ پاکي هم بیانوي، د اللّٰه پاک لوئي هم بیانوي او د کور والؤ د پاره د بخښنې دُعا هم کوي۔

کله چې کال پوره شي نو د هٔغه فرښتو د ټول کال د عبادت برابر د کور والؤ پهٔ اعمال نامه کښې عبادت لیکلے کیږي او د دې سره به پهٔ اخرت کښې هغه ته دا بدله هم میلاؤیږي چې اللّٰه پاک به پهٔ هغهٔ باندې د جَنَّت خوندور خوراکونه خوري۔ (1)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! غور اوکړئ چې څومره زبردست فضیلت دے ✿ میلمه کور ته راغلو، د هغهٔ پهٔ ښه طریقه میلمستیا کوئ! ✿ پهٔ بدله کښې به څهٔ میلاؤیږي؟ زمونږ کورونه به د خیر او برکت نه ډک شي ✿ فرښتے به کور ته تشریف راوړي ✿ زمونږ پهٔ کور کښې به اوسیږي او د اللّٰه پاک معصومې فرښتے به د اللّٰه پاک حمد او ثنا کوي ✿ او زمونږ د پاره به د بخښنې دعاګانې کوي۔ دا زبردست فضائل دي۔ که د خوش قِسمتئ نه میلمه کور ته تشریف راوړي نو دا روایتونه پهٔ ذِهن کښې ساتئ او پهٔ ښهٔ انداز د هغوئ میلمستیا کوئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! ټول کال به مو کور د خیر او برکت نه ډک وي۔

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اللّٰه پاک چې د چا سره د نیکئ اراده وفرمائي نو هغهٔ ته

---

1 ...معرفة الصحابة لابی نعیم، جلد:1، صفحه:339، حدیث:1154۔

نور څۀ عطا کيږي، پۀ دې باره کښې نور روايتونه هم دي، زۀ پۀ مختصر توګه هٔغه روايتونه عرض کووم:

## ښۀ اخلاق نصيب کيږي

❁ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **الله** پاک چې د چا سره د نيکئ اِراده وفرمائي، هغۀ ته ښۀ اخلاق ورعطا کړي۔[1]

معلومه شوه چې نيک انسان هغه دے کوم چې د ښو اخلاقو والا دے۔

## د نيکئ توفيق ميلاؤيږي

❁ د نبيانو نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **الله** پاک چې د چا سره د نيکئ اِراده وفرمائي، هغه د خلقو محبوب جوړوي۔ آيا تاسو ته معلومه ده چې څنګه يې محبوب جوړوي؟ **الله** پاک هغۀ ته د وفات کيدو نه مخکښې د نيک اعمال توفيق ورعطا کوي، بس د هغه ګاؤنډيان او ګير چاپيره اوسيدونکي د هغۀ نه راضي شي۔[2]

## قناعت او برکت ورعطا کولے کيږي

❁ محبوبِ خُدا، اَحمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: کله چې **الله** پاک د يو بنده سره د نيکئ اِراده وفرمائي نو هغه پۀ ورکړے شوي رزق باندې راضي کوي او پۀ هغې کښې ورته برکت ورعطا کوي۔ [3]

معلومه شوه چې **الله** پاک چې چاته څۀ عطا کړي دي، څوک چې پۀ هغې باندې راضي دے، هغه نيک انسان دے۔ د نور زياتولو طلبګار دے، بيا که هغه کروړ پتي وي، که ډير غريب وي، چې د **الله** پاک پۀ تقسيم باندې راضي نۀ دے نو هيڅکله نيک بنده نۀ دے۔

---

1...نوادر الاصول، الاصل التسعون و المائة، جلد:2، صفحه:37۔

2...الاحاد و المثانی لابن ابي عاصم، جلد:3، صفحه:315، حديث:2340۔

3...الزهد لابن مبارک، فهرس ابواب زيادات الزهد، جز:5، صفحه:461، حديث:127۔

## حاجت روا جوړوي

❁ محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اِذَا اَرَادَ اللهُ بِعَبْدٍ خَيْرًا اسْتَعْمَلَهٗ عَلٰى قَضَاءِ حَوَائِجِ النَّاسِ يعني **اللّٰه** پاک چې د کوم بنده سره د نيکۍ اراده اوکړي نو د هغهٔ نه د خلقو د حاجتونو د پوره کولو کار اخلي - (1)

سُبْحٰنَ الله! چې د خلقو حاجتونه مونږ ته پيښيږي نو بعضې وخت ترينه مونږ تنګ شو ❁ د هلته نه يو راغلو: لږ قرض پکار دے ❁ د چا فون راغلو: پهٔ معاملاتو کښې انښتے يم، لږ مدد مې اوکړه! ❁ څوک څهٔ وائي، چې فلانکې خپل حاجتونه راوړي- مونږه هم تنګ شو ياره چې زما هم څهٔ ژوند شته که نهٔ؟ زهٔ به خپل کارونه هم کوم که نه --!! داسې مهٔ کوئ! **اللّٰه** پاک د خلقو حاجتونه تاسو ته پيښ کړي دي، تاسو د هغوئي حاجتونه پوره کړئ! ستاسو هم دغه کار دے- د حديث شريف مطابق کوم بنده چې د نورو پهٔ حاجتونو پوره کولو کښې اخته وي، **اللّٰه** پاک د هغهٔ کارونه پخپله سموي- (2)

## د دُعا توفيق نصيب کيږي

❁ خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **اللّٰه** پاک چې د کوم بنده سره د نيکۍ اِراده اوکړي، د هغهٔ زړهٔ د دُعا طرف ته مائل کړي- (3)

اَللّٰهُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دُعا د عبادت مغز دے، دې ته افضل عبادت فرمائيلے شوے دے- افسوس چې دلته د دعاګانو رجحان ډير کم شوے دے- مونږ چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سيرت مبارک ته وګورو نو مونږ ته پکښې ډيرې دعاګانې ميلاوئيږي ❁ د اودهٔ کيدو پهٔ وخت دُعا ❁ د خوب نه د

---

1…شعب الايمان، باب فی الجود و السخاء، جلد:7، صفحه:426، حديث:10839۔

2…مسلم، کتاب البر والصلة و الآداب، باب تحريم الظلم، صفحه:1000، حديث:2580۔

3…جامع صغير، صفحه:347، حديث:5616۔

راپاڅېدو په وخت دُعا ❁ د خوراک نه مخکښې دُعا ❁ د خوراک کولو نه پس دُعا ❁ د پيزار په ښپو کولو دُعا ❁ د جامو اغوستو دُعا ❁ د سحر دُعا ❁ د ماښام دُعا ❁ د اوبو څښلو دُعا ❁ د پئيو څښلو دُعا ❁ د نوې مياشت د ليدو دُعا ❁ د نوې کال دُعا- غرض دا چې د سحر نه د ماښام پورې ، د ماښام نه د سحره پورې ډيرې دُعاګانې دي- مونږ ته دا دُعاګانې هم يادې نۀ وي او هسې هم مونږ دعاګانې ډيرې کمې کوو- **الله** پاک دې توفيق راعطا کړي- د نيک انسان نخښه ده چې د هغۀ زړۀ د دُعا طرف ته مائل وي- ځکه مونږ له پکار دي چې ښې ډيرې دُعاګانې اوکړو-

## د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنْہُم محبت نصيب کيږي

اوس يو اخري او اِيمان تازه کوونکے حديثِ پاک واورئ! افضل نبي، اَشرف نبي، اعظم نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اِذَا اَرَادَ اللهُ بِرَجُلٍ مِّنْ اُمَّتِیْ خَيْرًا اَلْقٰی حُبَّ اَصْحَابِیْ فِیْ قَلْبِہٖ يعنې **الله** پاک چې کله زما د يو اُمتي سره د ښيګړې اِراده وفرمائي نو د هغۀ په زړۀ کښې زما د صحابۀ محبت واچوي-[(1)]

سُبْحٰنَ الله!

| | |
|---|---|
| کیوں جہنّم میں جاؤں سینے میں | عشقِ اَصحاب و آل رکھا ہے |
| میں کبھی کا بھٹک گیا ہوتا | آپ ہی نے سنبھال رکھا ہے |

*–*–*–*

| | | | |
|---|---|---|---|
| هر صحابي نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | تولې صحابياتې هُم! | جَنَّتي جَنَّتي |
| څلور ياران د نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | حضرتِ صديق هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| او عُمر فاروق هُم | جَنَّتي جَنَّتي | عُثمانِ غني | جَنَّتي جَنَّتي |
| فاطِمه او علي | جَنَّتي جَنَّتي | دي حسن حُسين هُم | جَنَّتي جَنَّتي |

---

1...تاريخ اصبهان، جلد:1، صفحه:467-

| | | | |
|---|---|---|---|
| والدين د نبي | جَنَّتي جَنَّتي | هره بي بي د نبي | جَنَّتي جَنَّتي |
| دے مُعاوِيه هُم | جَنَّتي جَنَّتي | او ابُو سُفيان هُم | جَنَّتي جَنَّتي (1) |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!دا د ښۀ او نيک بنده نښې د احاديثو په رڼا کښې عرض کړے شوي ۞ دټولو نه ړومبۍ نښه وه :اسلام نصيب کيدل ۞ اخري نښه ده: د صحابؤ محبت نصيب کيدل- دا دواړه نښې ډيري اهمې دي، دا مونږ له ضرور د زړۀ د اخلاصه مضبوطې نيول دي، په دي باندي يو وخت، لږ سعت هم د څه قسمه سمجوته نه دي کول - ميځنۍ چي کومې نښې دي ۞ په ازميښت باندي صبر کول ۞ د دين پوهه ۞ ميلمستيا ۞ ښۀ اخلاق ۞ د نيکو کثرت ۞ قناعت ۞ د خلقو په کار راتلل وغيره دا نښې هم مونږ له خپلول پکار دي **الله** پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: هفته واره رساله مطالعه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي پۀ ټوله دُنيا کښې د نيکۍ دعوت عام کولو کښې مصروف دے، د نيک نـمونځ ګزاره جوړيدو، د ظاهري او باطني ګناهونو نه د ځان بچ کولو، د اخرت د فِکر موندلو او د الله او د رسول محبت پۀ زړۀ کښې د ابادولو د پاره تاسو هم د دعوتِ اِسلامي د ديني ماحول سره خپل تړون مضبوط ساتئ! پۀ 12 ديني کارونو کښې هم ښه پوره برخه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دنيا او آخرت بے شميره خيرونه به درنصيب شي- پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: **هفته واره رساله مطالعه** هم ده-

---

1 ...وسائلِ فردوس، صفحه:53۔

پۀ حديثِ پاک کښې دي: اَلعِلمُ بِالتَّعَلُّمِ عِلم د زده کولو سره راځي- [1] ❁ د اوسني وخت پۀ بدو کښې يوه بدي دا هم ده چې خلق د عِلمِ دِين نه لرې وځي ❁ د دِيني کتابونو د لوستلو شوق د نشت برابر دے ❁ مخکښينو خلقو به دِيني کتابونه ډير خوښول ❁ شپه او ورځ به يـې کتابونه لوستل ❁ لهٰذا د هغوئي سره به ديني معلومات هم ډير وو او ❁ ژوند به يـې هم پاک وو-

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د باني شيخِ طريقت امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه خاصيت دا دے چې هغوئي پخپله هم د عِلم دِين سره ډير شوق لري او عاشقانِ رسول ته هم د دِيني کتابونو د لوستلو د شوق ترغيب ورکوي ❁ هغوئي د هر خالي پۀ ورځ د يوې ديني رسالې د لوستلو فرمائي ❁ مختصره شان رساله وي ❁ پۀ يو څو منټو کښې لوستلے کيږي- تاسو يـې هم لولئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډيره فائده به مو کيږي ❁ ديني معلومات به مو زياتيږي ❁ د عِلمِ دِين د زده کولو ثواب به درته ميلاويږي ❁ د ديني کتاب د لوستلو سره دماغ هم ښه کيږي ❁ نظر تيزيږي ❁ حکمت نصيب کيږي ❁ سوچ پاکيږي او ❁ پۀ ژوند کښې ښکلا راځي ❁ د جديد سائنسي تحقيقاتو مطابق د کتاب لوستلو سره د دماغي بيمارو نه حفاظت کيږي-

هره هفته پۀ پابندۍ سره د **هفته وارې رسالې** د لوستلو نِيّت اوکړئ! شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه او جانشينِ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه **هفته واره رساله** لوستونکو ته مختلفې دُعاګانې هم کوي، مونږ چې **هفته واره رساله** اولولو نو څۀ پته لګي چې د **اللّٰه** پاک د نيک بنده، ولئ کامِل د خُلې نه وَتلې دُعا زمونږ پۀ حق کښې قبوله شي او دُنيا او اخرت مو ښۀ شي- راځئ د ترغيب د پاره درته يو مَدَني سپرلے بيانووم-

1 ...بخاری، صفحه:90، حديث:67۔

# غیر مسلمه مسلمان شو

د هندوستان د یو اِسلامي ورور څهٔ داسې بیان دے چې زهٔ د کفر پهٔ تیارو کښې ورَک ووم، یوه ورځ راله چا د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله **احترامِ مسلم** پهٔ تحفه کښې را کړه- ما چې اولوستله نو حیران پاتې شوم چې کومو مسلمانانو ته به ما همیشه د نفرت پهٔ نظر کتل د هغوئي مذهب **اسلام** دومره د امن پیغام ورکوي! د رسالې د تحریر اثر لکه د غشي زما پهٔ زړهٔ ولګیدو او پهٔ زړهٔ کښې مې اسلام کور وکړو- یوه ورځ ما پهٔ بس کښې سفر کولو چې د یو څو ګیرو والؤ او عمامو والا اسلامي ورونو قافله هم بس ته را اوختله، ما ته پته ولګیده چې دا مسلمانان دي، زما پهٔ زړهٔ کښې د اسلام محبت پیدا شوے وو ځکه ورته ما پهٔ درنه سترګه کتل، پهٔ دې کښې یو اسلامي ورور د نبئ مکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ شان کښې نعت شریف شروع کړو، زما د هغهٔ انداز ډیر خوښ شو، زما پهٔ شوق سره اوریدو ته چې یـې وکتل نو پهٔ هغوئي کښې یو کَس زما سره خبرې شروع کړې- هغهٔ ته پته ولګیده چې زهٔ مسلمان نه یم، هغهٔ پهٔ مسکا ډیر پهٔ زړه پورې انداز کښې ما ته ووئیل، زهٔ تاسو ته د اسلام قبلولو خواست کووم، زه د **احترامِ مسلم** رسالې لوستلو سره د مخکښې نه پهٔ زړه کښې پهٔ اسلام مئین شوے ووم، د هغهٔ د محبت نه ډک انداز مې پهٔ زړهٔ باندې نور اثر هم وکړو او اَلْحَمْدُلِلّٰه! ما کلمه ووئیله او مسلمان شوم- [1]

| | |
|---|---|
| ترا شکر مولیٰ دیا دینی ماحول | نہ چُھوٹے کبھی بھی خدا دینی ماحول |
| دعا ہے یہ تجھ سے دل ایسا لگا دے | نہ چُھوٹے کبھی بھی خدا دینی ماحول[2] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1… غافل درزی، صفحه:25۔

2… وسائلِ بخشش، صفحه: 648647۔

## بهارِ شریعت موبائل ایپلي کیشن

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اسلامي د ***I.T*** ډیپارټمنټ له خوا ډیر ښکلے، ځانګړے او ډیر فائده مند موبائل ایپلي کیشن د بهارِ شریعت ***(Bahar e shariyat)*** په نوم جاري کړے شوے دے ❀ د صدر الشّریعه، مولانا امجد علي اعظمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د ډیر اعلیٰ کتاب بهارِ شریعت درې واړه جلدونه په دې ایپلي کیشن کښې شامل کړے شوي دي ❀ د دې نه علاوه په بهارِ شریعت کښې شامل د قرآنِ پاک آیتونه، حدیثونه، اصطلاحات او لغت د دې ایپلي کیشن حصه ده ❀ تاسو په ایپلي کیشن کښې متن هم لټولے شئ ❀ د سرچ کولو نور بهترین فیچر موجود دي ❀ د اُردو د کي بورډ سهولت هم موجود دے د پاره د دې چې په ایپلي کیشن کښې په لټون کښې اساني وي- تاسو هم په خپل موبائل کښې دا ایپلي کیشن انسټال کړئ! د دې نه فائده حاصله کړئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ-

## د نومبر میاشت د قافلې میاشت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دعوتِ اِسلامي یو ځل بیا نمانځي، د نومبر میاشت د قافلې میاشت-

په کومه کښې چې د ټول ملک نه عاشقانِ رسول ❀ د یوې میاشتې ❀ د 12 ورځو ❀ او د دریو ورځو قافلو کښې سفر کوي- الحمد لله ! د الله په لار کښې سفر کول ډیر د فضیلت والا کار بلکې د انبیاؤ عَلَيۡهِمُ السَّلَام سنت دې ، تاسو هم د نومبر په قافله کښې د سفر کولو نیت وکړئ! که کیدے شي نو د اوس نه خپل نیت ولیکئ! اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِيۡم! ډیر برکتونه به مو نصیب شي ❀ په قافله کښې فرض عِلمِ دِین ښودلے کیږي ❀ سُنَّت ښودلے کیږي ❀ د تهجدو کولو سعادت نصیب کیږي ❀ د نیکۍ د دعوت عام کولو موقع میلاؤیږي ❀ د قافلې په برکت د دعاګانو د قبلیدو ❀ د مشکلاتو د لرې کیدو ❀ د بیمارو نه د

شِفا میلاؤیدو هم پۀ سوونو واقعات موجود دي ✿ داسې هم شوي دي چې پۀ قافله کښې د سفر کوونکو عاشقانِ رسول د ډاډګیرنې د پاره خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم فرمائیلے او پۀ خوب کښې یې تشریف راوړے او پۀ قافله کښې د شرکت کوونکو قافلې له یې د دیدن جامونه ورکړي دي- څه پته لګي چې مونږ د قافلې مسافر جوړ شو او قسمت مو راویښ شي او په مونږه هم کرم وشي،

جلوهٔ یار ادھر بھی کوئی پھیرا تیرا | حسرتیں آٹھ پہر تکتی ہیں رستہ تیرا

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## یو څو ضروري اِعلانات

✿ یو څو ضروري اعلانات واورئ! د هر خالي پۀ ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ مَدَني چینل باندې لائیو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکې خالي پۀ ورځ به هم پۀ مَدَني چینل باندې د ماسخوتن د نمونځ نه پس (تقریباً 8:30 بجې) اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کیږي، پۀ کومه کښې چې به شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ✿ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د یوې دِیني رسالې د لوستلو اعلان کوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د بے حسابه مغفرت والا اعمال رسالې اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او خوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس ایپ وغیره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شیئر (*Share*) کړي! ✿ مکتبة المدینه د حضرت

امام جلال الدين سيوطي شافعي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه مشهور كتاب شرح الصدور د اردو ترجمې سره شائع كړے دے- پۀ دې كتاب كښې د ❁مرګ، ❁برزخ، ❁قبر او ❁آخرت په احوالو په ډېر ښكلي او ايمان تازه كوونكي انداز كښې رڼا اچولےشوې ده- دا كتاب د مكتبة المدينه د يو شاخ نه په **700** روپۍ پۀ بيعه طلب كړئ، ځپله يې هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغيب وركړئ!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان پۀ اخره كښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِي فِي الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وكړو هغۀ زما سره محبّت وكړو او چا چې زما سره محبّت وكړو هغۀ به پۀ جنّت كښې زما سره وي- (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## رښتيا وئيل سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دي

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامين مبارك دي: (1):** رښتيا وئيل نيكي ده او نيكي جَنَّت ته بوتلل كوي - (2)**(2):** د نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پوښتنه اوكړے شوه: جنتي عمل كوم يو دے؟ اوئې فرمائيل: رښتيا وئيل- (3)

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** رښتيا وئيل د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني

---

1...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

2...مسلم، كتاب الادب، باب قبح الكذب...الخ، صفحه:1405، حديث:2607۔

3...مسند امام احمد، جلد:2، صفحه:589، حديث:6652۔

**مصطفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **سُنَّت** دي ❁ پۀ دې وجه خلقو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **صادق او امين** پۀ لقب سره پيژندلو ❁ حضرت عبد الله بن سلام رَضِىَ اللهُ عَنْهُ لا ايمان نۀ وو راوړے چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ ليدلو يـې ووئيل: وَجْهُهٗ لَيْسَ بِوَجْهِ كَذَّابٍ دا مبارک مخ د دروغو وئيلو والا مخ نۀ دے، بيا حضرت عبد الله بن سلام رَضِىَ اللهُ عَنْهُ اِسلام قبول كړو۔

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دروغ وئيل ګناه ده،** مونږ ته د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ سُنَّت باندې عمل كول دي او هميشه رښتيا وئيل دي۔ **الله** پاک دې مونږ ته هميشه د رښتياؤ وئيلو توفيق راعطا كړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د مختلفو سنتو زده كولو د پاره د مكـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده كولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو كښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر كول هم دے۔

سنتیں سیکھنے تین دِن کے لیے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

**الله** پاک دې مونږ ته د عمل كولو توفيق راعطا كړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمعې او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبۡر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبۡر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِىَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو د کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته کړے شي.[2] راځئ

---

1... افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا
2... القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپې لاکه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.(1) راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم حيران شول چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.(2) راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف

---

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

2...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1 ... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۳۲۹/۲، حديث: ۳۰

2 ... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث: ۱۷۳۰۵

3 ... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۵۵/۱۹، حديث: ۴۴۱۵